# اې د الله رسوله! د سعد مور وفات شوې ده، نو کومه صدقه غوره ده؟، هغه وفرمایل: «اوبه»، وايي: نو څاه یې وکېندله، او ویې ویل: دا د سعد د مور ده

له سعد بن عباده رضي الله عنه څخه روایت دی چې فرمايي: اې د الله رسوله! د سعد مور وفات شوې ده، نو کومه صدقه غوره ده؟، هغه وفرمایل: «اوبه»، وايي: نو څاه یې وکېندله، او ویې ویل: دا د سعد د مور ده.

د سعد بن عبادة رضي الله عنه مور وفات شوه، نو له پېغمبر صلی الله علیه وسلم څخه یې پوښتنه وکړه چې تر ټولو غوره صدقه کومه یوه ده چې د خپلې مور پسې یې وکړي؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې تر ټولو غوره صدقه اوبه دي، نو څاه یې وکېندله او د خپل مور پسې ئې صدقه وګرځوله.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65613